بسم الله الرحمن الرحيم

# د فساد مخنيوي ديني هيوادني او ټولنيز مسؤليت دی

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: **« وَلا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ إِنَّ اللَّهَ لا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ »ژباړه:« او په ځمکه کښې د فساد ولاړولو هڅه مکوه، الله فساد کوونکي نه خوښوي.»**او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی فرمايي: يقينا زه ددي لپاره را ليږل شوی يم چې نيک اخلاق بشپړ کړم، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځې پوري په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

يقينا فساد يو داسی پديده ده چې د وګړو او هيوادونو انرژي لمنځه وړي او د جوړښت او د ودي او د پرمختګ په وړاندي يو لوي خنډ دی نود همدي لپاره ټولو اسماني شريعتونو پدي باندي اتفاق کړي دی چې د فساد مخنيوي بايد وشي هغه که په هر ډول او په هر شکل کې وي الله جل جلاله د صالح عليه السلام په ژبه باندي داسی وفرمايل:« وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ» ژباړه:« و په ځمکه کښي فساد مه راولاړوئ."»او همدارنګه د شعيب عليه السلام په ژبه يی داسی وفرمايل:« وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ» ژباړه:« او خلکو ته د هغو شيان کم مه ورکوئ. په ځمکه کښي فساد مه خپروئ؛» او همدارنګه د موسی عليه السلام په ژبه چې خپل وروړهارون ته يی خطاب کولو داسی وفرمايل:« وَأَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيلَ الْمُفْسِدِينَ» ژباړه:« او د اصلاح فعاليت کوه او د ورانکارو په لاره مه ځه."» او بيا فرمايی:« وَلا تَعْثَوْا فِي الأرْضِ مُفْسِدِينَ» ژباړه:« و په ځمکه کښي ورانی مه کوئ.» همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي څوک چې د الله رضامندي وغواړي او د هغه اطاعت وکړي خپل خه مال خرچ کړي او د خپل شريک سره اساني وکړي او د فساد څخه لاس په سر شي نود هغه خوب او بيداري ټول هغه ته ثواب ګرځي.

اداري فساد بيلابيل ډولونه لري چې ترټولو خطرناک ترين دادی چې په مالي او اداري چارو کې ترسره کړي هغه که په عام مال باندي تجاوز وي او يا هم دا چې خپل ديني مسؤليت په سمه توګه سره اداء نکړي يا دا چې رشوت واخلي دا ټول هغه څه دی چې د عامو خلکو مال خوړلو کې راځي چې دا پخپله يو باطل کار دي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ» ژباړه:« او تاسي مه په خپلو منځو کښي يو د بل مال په ناروا توګه خورئ» همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: په رشوت وروکونکي او اخيستونکي دواړو باندي د لعنت وي په بل ځاي کې فرمايلي دي چې ځيني داسی خلک دي چې د الله جل جلاله په مال کې بغيرد حق څخه تجاوز کوي نو دوي لپاره به د قيامت په ورځ

اور وي اوهمدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم په بل حديث کې فرمايلي دي چې څوک دوکه وکړي نوهغه زمونږ څخه ندي.

بی له شکه چې د فساد مخنيوي يو ديني هيوادني مسؤليت دی ديني مسؤليت لدي اړخه دی چې بايد نفس اصلاح کړي او همدارنګه پداسی ډول سره تربيه کړي چې د الله څخه وويريږي او پدي فکر کې ووسي چې په خکاره او په پټه د هغه نفس څارل کيږي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ» ژباړه:« هغه ستاسي سره دی. تاسي چې هر کار کوئ الله يې ويني.» او بيا فرمايي:«إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا» ژباړه:« باور ولرئ چې الله پر تاسي څارونکی دی.» همدارنګه لازمه ده چې د ريښتينولي امانت او د وفاء ارزښتونه بايد د انسان په نفس کې وکرلي شي حقيقی مومن هغه دی چې خير رامنځته کونکي وي نه دا چې فساد لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« أَمْ نَجْعَلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِينَ فِي الْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ» ژباړه:« ايا موږ هغه خلك چې ايمان راوړي او نېک عملونه کوي او هغه کسان چې په ځمکه کښي فساد کوونکي دي يو شانته کوو؟ ايا موږ پرهيزګاران د بدکارانو په شان وګرځوو؟».

هيوادني مسؤليت پداسی ډول سره راځي چې بايد انسان د خپل هيواد لپاره غاړه کيدي او د هغه د ارزښتونو ساتنه وکړي او د هغه لپاره د عامو پيسو او د عامو ادارو په وړادي د مسؤليت احساس وکړي او همدارنګه هڅه وکړي ترڅو ريښتينولي شفافيت د ټولني په وګړو کې رامنځته کړي او همدارنګه د فاسدانو او د ويجاړونکو مخنيوي وکړي الله جل جلاله د مفسدانو سره دسخت جزاء ورکولو وعده کړي ده لکه چ الله جل جلاله فرمايي:« إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَافٍ أَوْ يُنفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ» ژباړه:« کوم خلك چې له الله او د هغه له پيغمبر سره جنګيږي او په ځمکه کښي ددې لپاره منډي ترډي کوي چې فساد را ولاړ کړي، نو د هغو سزا دا ده چې ووژل شي، يا په دار وځړول شي، يا يې لاسونه او پښي ردو بدلې غوڅي کړای شي، يا له وطنه وشړل شي. دا ذلت او سپکاوی خو د هغو لپاره په دُنيا کښي دی، او په اخرت کښي د هغو لپاره له دې څخه هم لويه سزا ده».

****

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

ټولنيز مسؤليت پداسی ډول دی چې بايد په ټولنه کې بايد عام کلتور پياوړی شي چې د فساد مخنيوي پری ترسره کيږي اوهمدارنګه ټولنيز څارنه بايد رامنځته شي چې بايد پدي ترڅ کې خلکو ته د فساد خطرونو په هکله معلومات ورکړل شي او همدارنګه دا کار بايد ددی لاري ترسره شي چې ديني اداري او همدارنکه د ښووني او روزني او د رسنيو له لاری بايد تبليغ

ترسره شي الله جل جلاله فرمايي:« فَلَوْ لا كَانَ مِنَ الْقُرُونِ مِن قَبْلِكُمْ أُوْلُوا بَقِيَّةٍ يَنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ فِي الأَرْضِ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّنْ أَنجَيْنَا مِنْهُمْ» ژباړه:« نو ولي په هغو قومونو کښي چي ستاسي څخه مخکي تېر شويدي، د خېر خلك موجود نه ول چي نور خلك يې په ځمکه کښي له فساد راولاړولو څخه منع کړي واى؟ - دغسي خلك که را پيدا شول هم خو ډېر لږ، چي موږ هغوی له هغو قومونو څخه وژغورل.» او بيا فرمايی:« وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ القُرَى بِظُلْمٍ وَأَهْلُهَا مُصْلِحُونَ» ژباړه:« ستا رب داسي نه دی چي په ناحقه کلي تباه کړي، په داسي حال کښي چي د هغو اوسيدونکي سمون راوستونکي وي.».

همدارنګه دا چاره دا لازموي چې بايد په فساد باندي سترګی پټي نشي او د هغو ادارو سره مرسته ترسره شي چې هغوي د فساد څيرني کوي ترڅو په ټولنه کې بشپړ برقراري رامنځته شي نبي کريم صلی الله عليه وسلم پدي هکله فرمايلي دي: چې دوي د هغه کښتي په څير دي چې په يوه کښتي کې سپاره وي ددی امکان نلري چې ځيني په هغه کې وژغورل شي چې ځيني پکي پاتي وي بلکه يا به ټول ژغورل کيږي او يا به ټول غرقيږي، همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم هم پدي هکله همداسی ويلي دي چې دوي مثال د هغه کشتي په څير ده چې ځيني پورته وي او ځيني لاندي وي که چيرته لاندي خلک د اوبو څخه راواخلي او کښتي سوری کړي نو داسی ده چې ګويا ټول دوي غرق کيدلي شي.

**الله د مصر ساتنه وکړي او همدارنګه د هري بدي څخه مصر اود نړی ټول هيوادونه وساتي.**